# د يادونو مقبرو کښې

(د رب کرم)

٩

سعدالله جان برق

ډېر خلق د نصيب او خدائے نه ګيلې کوي. ما له ئې هم خاني نۀ ده راکړې او ډېرې منډې ئې راباندې وهلې دي. ډېرې خولې مې بهيولې دي او پښې لاسونه مې ډېر پولې کړي دي خو زۀ په يو څو خبرو د خدائے يا قسمت هر څۀ چې ورته څوک وائي نه ډېر خوشحال يم يو خو په دې چې زۀ ئې په يوه ډېره غريبه کورنۍ کښې پيدا کړے يم، چې د ژوند انحصار ئې په لږه زمکه او ډېر زيات مشقت ؤ، تعليم مې هم څۀ خاص نۀ ؤ، ريګولر مې تر اوومه سکول وئيلے ؤ او بيا مې پرائيوېټ تر لسمه پورې. خو کوم هنر چې ماله خدائے راکړے دے، د هغې مثال ډېر کم ملاوېږي. د اردو نه واخله تر فارسۍ، انګرېزۍ او عربۍ پورې ادب نه براه راست مطالعه کولے شم. پښتو خو ظاهره ده چې خپله ژبه ده. اردو هر چا ته معلومه ده چې نن د خدائے په فضل د ټول پاکستان تمام اردو ليکونکي هم مني چې زما د ليک او قلم جواب نشته. په دواړو ژبو کښې شاعري، ډرامه، کالم هر څۀ مې خلق خوښوي. په مزاح کښې مې هم يو مقام دے او په سنجيده ادب کښې هم ښه ځائے خلق راکوي حتٰي د علميت او تحقيق مې هم ډېر خلق قائل دي او دا نۀ د تعليم په وجه، نۀ د خاندان په سبب او نۀ د څۀ دنياوي مرتبې په بنياد راکړے شوي دي. خالصه د خدائے راکړه ده. ډېر خلق دا ګڼي چې ما ډېر تعليم کړے دے خو اکېډمک يا هغه تعليم چې نوکري پرې کېږي ما سره هيڅ نشته. لسم مې هم هغه وخت پاس کړے ؤ چې عمر مې د نوکرۍ نه وتے ؤ او کۀ وے هم نو د کلرکۍ نه به مې شروع کوله او هيډ کلرک به ريټائرډ کېدم.

بل د خدائے لوئے کرم په ما دا دے چې په ځوانۍ کښې مې هر قسم تکليف تېر کړے دے، محنت مشقت مې کړے دے، لوږې تندې مې تېرې کړې دي، په دنيا کښې به داسې ډېره کمه مزدوري وي چې ما به نۀ وي کړې، د سړکونو تعمير، د تارکولو کار، په ټرکونو کښې شګې کاڼي خښتې راچلول، خرۀ چلول باقاعده د ګاډۍ او قُلبې پخه زميندارې کول. غابښورې، مالې، لُوټې ټکول، ګوډونه، چارۍ، مرچکي ټولول، په مزدورۍ کښې سپين ګنې وهل او ټرکونه ډکول، د باغونو شوکمارې يعنې مېوه شوکول او د جهنم غوندې خاربښت د خښتو جوړول، بټۍ کښې اور بلول، ګلګار سره کار کول، دېوالونه وهل، د غنمو جوارو لۀ په مزدورۍ کول، په بنو کښې مسالې ټکول او ډبو کښې بندول. د اړې او اوړو مشين ګرځول. ګاڼي ګرځول، داسې کار به ډېر کم وي چې ما به نۀ وي کړے. يو څو تجارتونه مې هم کړي دي. وارۀ

دکانونه، د الوچو شفتالانو باغونه اخستل او پنجاب ته کرېښونو کښې لېږل، اعرابونه او ګنده نالۍ صفا کول، ټرېکټر او بلډوزر چلول. په کومه ورځ چې ما په بانګ حرم کښې باقاعده کالم ليکل شروع کړل د هغې نه يوه ورځ وړاندې ما په اباسين فلور مل کښې د خټې ټاټکے چلولو. پاؤ باندې دوه روپۍ دياړي وه چې مابنام سترے ستومانه راغلم نو د قلندر صيب رقعه موجوده وه چې ايوب صابر راغلے ؤ چې په بانګ حرم کښې دې مصطفٰي کمال سره ووينې. ما د دۀ دپاره خبره کړې ده.

په بنو کښې چې ما ترۀ سره د مسالې کارکولو نو نوي(۹۰) روپۍ د مياشتې تنخواه او خرڅ خوراک خپل ؤ، په هرې پور کښې چې ما کله د بلډوزر کنډيکټري په محکمه زراعت انجينئرنګ کښې کوله نو دېرش روپۍ مياشت تنخواه او په فوځ کښې چې برتي شوم او بيا تري راوتښتېدم نو دوه دېرش روپۍ تنخواه مې وه خو نن په ۲۰۰۸ کښې ايکسپرېس اخبار ماله ۵۵ زره روپۍ راکوي او په مياشت کښې صرف پنځلس کالمونه ليکم. رېډيو، ټي وي، اخبارونه رسالې راته منت کوي چې څۀ ورله وليکم، فلمونه او سي ډي والاؤ ته خو مې صفا انکار کړے دے، مجموعي طور زۀ د مياشتې اندازاً يو لک روپۍ ګټم. بې شماره لوئے لوئے خلق مې عزت کوي او د مطلب لالچ يا خوف د وجې ظاهري عزت نۀ بلکې د زړۀ نه ئې کوي.

نو د دې نه لوئے کرم بل څۀ کېدے شي او ما غوندې يو معمولي کورنۍ معمولي سړي له خدائے پاک د دې نه زيات نور څۀ ورکړي. غټه خبره دا ده او دا زۀ د هر چا دپاره دعا کوم چې په ځوانۍ مې کۀ سختې تېرې کړې دي نو هغه وخت مې طاقت ؤ، په اسانه مې تېرې کړې خو کۀ اوس په بوډاتوب کښې سختۍ، تکليف يا غربت وے نو دا به ډېره لويه بدنصيبي وه. زما او

**په ځوانۍ کښې مې هر قسم تکليف تېر کړے دے، محنت مشقت مې کړے دے، لوږې تندې مې تېرې کړې دي، په دنيا کښې به داسې ډېره کمه مزدوري وي چې ما به نۀ وي کړې، د سړکونو تعمير، د تارکولو کار، په ټرکونو کښې شګې کانې خښتې راچلول، خرۀ چلول باقاعده د ګاډۍ او قُلبې پخه زميندارې کول. غابنورې، مالې، لُوټې ټکول، ګوډونه، چارۍ، مرچکې ټولول، په مزدورۍ کښې سپين ګني وهل او ټرکونه ډکول، د باغونو شوکمارې يعنې مېوه شوکول او د جهنم غوندې خارښت د خښتو جوړول، بټۍ کښې اور بلول، ګلګار سره کار کول، دېوالونه وهل، د غنمو جوارو لۀ په مزدورۍ کول، په بنو کښې مسالې ټکول او ډبو کښې بندول. د ارې او اوړو مشين ګرځول. ګانۍ ګرځول، داسې کار به ډېر کم وي چې ما به نۀ وي کړے.**

ډېرو خلقو سره هم داسې کېږي، چې په ځواني کښې عېشونه وکړي او اخري عمر ئې په بده و رځ وي او په ما باندې دغه لوئے کرم دے چې آخري ورځې مې ډېرې ښې، ډېرې په آرام او ډېرې په عزت تېرېږي او هنر ئې داسې راکړے دے چې په يخ سبوري په ناسته ښۀ په آرام ئې کولے شم، ځکه چې کوم دماغ ئې راکړے دے هغه ورځ تر ورځه کمزورے کېږي نۀ بلکې لا نور قوي کېږي.

ما ډېر خلق وليدل او وينم چې دې عمر له راشي نو حال ئې تباه شي څۀ خو د اولاد د لاسه وي خو څۀ په خپله هم د دې انجام لائق وي. خپل عملونه ئې دومره وران وي چې په اخره کښې ښۀ د شرمېدو شي ځکه خو اکثر خلق وائي او ډېر غلط نۀ وائي چې د شپېتو شي نو د ويشتو شي.

وائي چې د انسان خپل اصلي عمر ډېر لږ ؤ، ټول ټال دېرش کاله ؤ چې پنځلس خو د وړوکتيا د پټو سترګو عمر وي او باقي نور پنځلس کاله وو. نو دے ډېر خفه ؤ چې ايله سړے په مزو پوهه شي نو سر وخوري. د دۀ ژړا انګولا په حېواناتو اثر وکړو حالانکې دے په خپله چرې هم په حېوانانو زړۀ نۀ سوزوي ځکه چې اشرف المخلوقات دے، حالانکې دا هم صرف د دۀ دعویٰ ده، بل چا ځناور نۀ دي وئيلي خو ځناور غريبانان بيا هم دومره شريفان وو چې زړۀ ئې پرې وسوزېدلو. اول ورله غوايانو لس کاله ورکړل، بيا لس کاله ورله خر و رکړل، پنځوس شول نو لس ورله سپي ورکړل بيا هم خفه ؤ نو لس ورله بيزو غريبې ورکړل. نو ځکه د دۀ اصلي انساني ژوند صرف دېرش کاله دے ، ورپسې لس کاله لکه د غوئي مشقت کوي او ورپسې لس لکه د خرۀ د

غمونو بار وړي، دغه چې تېر شي نو د سپي عمر ئې شروع شي، دے هم غاپي او اولاد ئې هم لکه د سپي کُرې کوي، بدرد ورته وائي او په بې عزتي ورته ټکړه ډوډۍ ګوزاروي. اخره کښې ئې شکل او ناسته پاسته ټوله د بيزو شي، واړۀ لوئي ورته نقلونه کوي، ورپورې خاندي او هره خبره ئې د بيزو پېښې شي.

يو عالم دا خبره هم کړې ده چې زمونږ نيم عمر زمونږ مور پلار برباد کړي او باقي راله بال بچ برباد کړي. هغه نور هر څۀ خو دې سر وخوري په اخري عمر کښې د ټولو نه لوئے تکليف دا وي چې دے غاپي او څوک ورته غوږ نۀ نيږدي کۀ کور ناست وي نو د کور خلقو ورته تندے پړسولے وي، کۀ دے ډېره هم ښه خبره کوي خلق ترې مخ تاؤ کړي، لا بانګ ئې نۀ وي وئيلے او انړور ورته وائي بابا جومات ته نۀ ځې، بانګ ئې پخوا وئيلے دے چې جومات ته لاړ شي نو د جومات خلق ترې لرې لرې ګرځي، وائي کور دې ساعت نۀ تېرېږي چې حجرې ته چرته ورپېښ شي نو يو يو پاڅي يوازې ئې پرېږدي. دا د بوډاتوب د ټولو نه لويه الميه ده.

داسې ټولو بوډاګانو بلکې ورسره د نورو عمرونو هغه ټولو خلقو له زۀ دا زرينه مشوره مفته ورکوم، کوم چې د بوريت خورولو کاروبار کوي. ضروري نۀ ده چې داسې بنده دې بوډا وي د بوريت خورولو اعلي نظام بعضې خلق په ځواني کښې هم حاصل کړي او چې چرته ورځي نو خلق ترې تښتي. څوک وائي هغه ده بجلي راغله، تښتي ګني وبه مو نيسي، بلکې د اکثرو خو پکښې باقاعده وولټېج هم مشهور شي، څوک وائي تښتي خطره چارسو چاليس راروانه ده، چا د پاره د آټھ سو چاليس

حوالــه ورکېــږي او څـــۀ خـــو پکښـــې ډېـــر هـــائي ټرانسمشن شي ګیاره هزار، تیس هزار بجلي ګر یا اخري پرائډ آف پرفارمنس "ګرد" مشهور شي.

داسـې خلـق د نـورو خلقـو د بـد ذوقـۍ او د کشرانو د بد اخلاقۍ یا نا اهلۍ نه ګیله من وي، دغه ټولو خلقو دپاره دا مشوره هسې خو مفت ده خو کۀ چا له ئې فائده ورکړله او خامخا به ئې ورکوي ځکه چې دا زما د ډېر عمر د تجربو نچوړ دے، نو داسې خلقو له پکار دي چې د شکرانې په توګه دې د خپلې خولې "زپ" یا پرتوغانې لږ کلک کړي.

داسې خلق اکثر ربړه بو خوړلي وي یو طرفیز غړېږي، یعنې خپله کوي او د بل نۀ اوري نو دوي له پکار دي چې د ربړه یو په ځائے ټیلیفون وخوري. یعنې د بـل دې هـم اوري، د دوۍ د مرضـې اصـلي جرړه هم دا ده چې صرف هغه خبرې کوي چې د دوي خوښې وي او دې ته بالکل نۀ ګوري چې مخامخ اوربدونکے هـم اخـر څـۀ دمـاغ، څـۀ مسـائل، څـۀ خواهشات لري، د هغۀ هم اوربدل پکار دي، بس لګیا وي هم د خپلې خوښې خبرې کوي نو د یک طرفه کلام یا ربړه یو بل علاج څۀ دے، هغوي ئې بټن تـاؤ کـړي، بند ئې کـړي یا ئې په ځائے پرېږدي او ټیلیفون کښې دا ده چې تۀ هم څۀ وائې او هغه هم څۀ وائي نو تله برابروي.

او پـه بوډاګانو کښې خو دا مرض ډېر زیات شي، غوږونه ئې کار پرېږدي بلکې هر اندام ئې بوډا شوے وي خو ژبه ئې ورځ تر ورځه ځوانېږي. داسې بوډا چې چرته وشي یا ورشي یا چالو شي نو خلق به پرې ولې نۀ تنګېږي.

زۀ هم بوډا یم بلکې چرې ځوان هم وم، اګر چې یقـین مې پـرې نـۀ راځي چې زۀ چرې ځـوان هـم وم، ځکه چې هغه د ځوانۍ وخت په ما دومره په غلو قدمونو تېر شوے دے چې خبر هم نۀ شومه او هغه راتـه د لـرې نـه لاس وخوځولـو چې ټاټـا د اردو یـو شاعر ډېره ښائسته خبره کړې ده:

دنیـا بهـی عجـب سـرائے فـانی دیکهـی
هـر چیـز یهـان کـی آنـی جـانی دیکهـی
جـو آکـے "نـه جـائے" وه بڑهاپـا دیکهـا
جـو جـا کـے "نـه آئـے" وه جـوانی دیکهـی

خو د ژوند په دې ټولو مرحلو کښې ماته چرې هم دا مسئله نۀ ده راپېښه شوې چې خلق دې رانه لکه د بد بویۍ وتښتي. په هر وخت هر ځائے کښې مې خبرې ته خلقو ډېر په خوشحالۍ غوږ ایښے دے، په حجره کښې په جومات کښې په لاره هر ځائے زۀ دا محسوسوم چې خلق نۀ صرف دا چې ما نه تښتي نۀ بلکې اصرار کوي چې زۀ دې ورسره کښېنم یا ودرېږم او د دې وجه صرف او صرف دا یوه ده چې زۀ صرف خپله نۀ کوم د بل هم اورم بلکې خپله هډو کوم نۀ کۀ خبره کوم نو داسې کوم چې د اوربدونکي دلچسپي او تعلق ورسره وي، هر چا سره هم د هغۀ د طبیعت خبرې کوم چې ځوانانو سره ئې یم نو د هغوي د مطلب او طبیعت خبرې کوم، ماشومانو سره د ماشومانو، بوډاګانو سره د بوډاګانو، حجره کښې د حجرې او په جومات کښې د جومات، عالمانو سره د علم او جاهلانو سره هم د هغوي د سطحې خبرې کوم خو زیاتې اورم نو ډېر ښۀ وخت تېرېږي او هر څوک راته وائي چې چرته مونږ سره هم کښېنه یا ودرېږه، ځکه چې زۀ صرف ربړه یو نۀ غړوم، ټیلیفون استعمالوم.